کمیته مستقل مشترک نظارت و ارزیابی
مبارزه با فساد اداری

د اداری فساد پر وړاندی د څارنی او ارزونی
خپلواکه ګده کمیته

**Independent Joint Anti-Corruption**
**Monitoring & Evaluation Committee**

# شالید

## د اداري فساد پر وړاندې د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه، د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په چارو کې د لاسته راوړنو او ناکامیو په اړه خپل وروستی شپږ میاشتنی رپوټ خپروي

د څارنې او ارزونې کمیټه (MEC) خپل پنځم شپږ میاشتنی رپوټ چې د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د وروستیو هڅو څخه خپلواکه څارنه کوي، خپور کړ.

- د څارنې او ارزونې کمیټه( MEC ) د فساد پروړاندې ددریو لوړپوړو ملي، او دریو لوړ پوړو نړیوالو متخصصینو څخه جوړه شوې ده.
- د څارنې او ارزونې کمیټه( MEC ) هر شپږ میاشتې وروسته ، ولس ، پارلمان ، ولسمشر ، مدني او نړیوالې ټولنې ته په افغانستان کې د فساد د وضعیت او د څارنې او ارزونې کمیټې د وروستیو کړنو په اړه خپل رپوټ وړاندې کوي
- وروستی رپوټ د ۲۰۱۳ کال د جولای څخه تر دسمبر پورې موده پوښئ.

د څارنې او ارزونې کمیټې د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په موخه د سلو څخه زیاتې سپارښتنې او بنچمارکونه ترتیب او وړاندې کړیدي

- د څارنې او ارزونې کمیټې د سلو زیاتې سپارښتنې او بنچمارکونه د حکومتدارۍ، د فساد څخه د مخنیوې او د قانون د پلي کولو په ساحو کې وړاندې کړیدي چې ملي او نړیوالو ادارو ته متوجه دي
- دغه سپارښتنې هر یوه وروسته له پلټنې، سلا ، د اړوندو مراجعو سره د پراخو بحثونو او د پالیسۍ د اهدافو په پام کې نیولو سره تدوین شویدي
- په تیرو شپږو میاشتو کې د کانونو په کیندلو کې دروڼتیا د زیاتیدو ، حکومتدارۍ، د ټاکنو دکمپاینونو تمویلولو او په آیسا مؤسسه کې د حساب ورکونې او اداري چارو په اړه نوې سپارښتنې وړاندې شویدي.

د څارنې او ارزونې کمیټې ارزونه د سپارښتنو د پلي کولو په اړه د دې ښکارندویي کوي چې د اداري فساد پر وړاندې په مبارزه کې یو شمیر ادارو پرمختګ ندی کړی

- د څارنې او ارزونې کمیټې موندلې ده چې یو شمیر ادارو د کمیټې سپارښتنې په بشپړه یا تر یوه حده او یا هیڅ ندي پلي کړي
- دا خبرنه پلي کونکو ادارو ته د نمرو ځانګړي کولو بنسټ جوړوي، چې پدې ډول پلي کونکي ادارې د اداري فساد پر وړاندې په مبارزه کې د لاسته راوړنو پر بنسټ طبقه بندي شویدي
- د اداراتو ترتیب ښئ چې نړیوال مرستندویه امنیتي ځواکونه(ISAF) ، د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت(MORR) د کابل بانک د کړکیچ د حل او فصل په موخه جوړه شوې ځانګړې محکمه او د افغانستان د پانګې اچونې د ملاتړ اداره (AISA ) د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په چارو کې تر ټولو کمزورې اداري دي

د څارنې او ارزونې کمیټه به په فعالیتونو خپلې څارنې ته ادامه ورکړي تر څو د جزا څخه د خوندیتوب په اړه جدي ننګونې په ګوته کړي

- د اداري فساد اړوند په سلهاو قضیې د دولتي ادارو ، د نمونې په ډول د پلټنې د سترې اداري، د څارد سترې اداري ، د سیمه ایزو ارګانونو خپلواک لوی ریاست او د افغانستان د څمکو اداري، پواسطه سترې محکمې ته لیږل شویدي
- نوموړې اداري د دې قضیو د څېړلو او عدلي تعقیب په اړه په جریان کی نه دي اچول شوي او د دې قضیو عدلي تعقیب هم کافی نه ؤ
- د اداري فساد اړوند قضیو د الکترونیکي سیستم څخه اغیزناکې استفادې کولای شول په سم ډول قضیې وڅیړئ او د قضیو د پرمختګ په اړه افراد مسؤل وګرځوئ. د څارنې او ارزونې کمیټې سپارښتنه نوموړې سیستم ته د لاسرسي په اړه رد شویده.

د کابل بانک او سردار محمد داود خان روغتون اړوند قضیو کې له جزا څخه خوندیتوب په ځانګړي ډول څرګند دی

- د څارنې او ارزونې کمیټه به د کابل بانک د کړکیچ اړوند کړنو څخه خپلې څارنې ته ادامه ورکړي. بدبختانه د استیناف د محکمې کړنې، د قضیې په حل کې د ربنتینولی د نشتون، د شک له امله ځنډول شوي ، چې دا د مهمو جرمي قضیو په حلولو کې د ځنډ لامل شوي
- د څارنې او ارزونې کمیټې ته اجازه ورنکړل شوه تر څو د سردارمحمد داود خان د روغتون د قضیې اړوند تورونو د ردولو د بهیر څخه نیغ په نیغه کتنه وکړي. د پلټنې په بهیر کې تشې د دې لامل شوې چې هیڅوک پدې قضیه کې تورن ونه ګڼل شي. چې دا د مریضانو د حقوقو څخه د ناوړې ګټې اخیستنې ښکاره پایله ده

د اداري فساد پر وړاندې مبارزه کې یو لړ د یادونې وړ پرمختګونه لیدل شویدي

- د اقتصاد وزارت د څارنې او ارزونې د کمیټې سپارښتنه پلي کړه او په ساختماني سکتور کې د روښتیا د نوښت(COST ) غړی شو. چې دا د عامه خلکو پواسطه د تمویل شوو ساختمانونو په جوړیدو کې د روښتیا د ډیریدلو لامل شوي
- د حج او اوقافو وزارت د افغانستان د روښتیا د څار او حرکت د مؤسسو سره په همغږی ، د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په اړه د څارنې او ارزونې کمیټې سپارښتنې ته په پام، د دیني علمایی کرامو پواسطه د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې کمپاین ، د خلکو د پوهې د کچې د لوړولو او روزنیزو پروګرامونو د لارې، په ټول افغانستان کې په لاره واچاوه

د څارني او ارزونې کمیټې په تیرو شپږو میاشتو کې کابل او نورو ولایتونو ته څو سفرونه او د کاري شریکانو سره هراړخیزه سلا او مشورې ترسره کړیدي

- د څارني او ارزونې کمیټې د خپل کړنلارې سره سم په تیرو شپږو میاشتو کې کابل ته دوه کاري سفرونه ترسره کړیدي. پدې سفرونو کې د کمیټې غړو د دولتي چارواکو، نړیوالو مؤسسو او مدني ټولنې د استازو سره لیدلي، ولایتونو ته یې سفرونه ترسره کړي او نوي سپارښتنې او بنچمارکونه یې تصویب کړیدي
- د کمیټې غړو او د سکرتریت کارکونکو په بلخ، ننګرهار، بامیان، کندز، کندهار، کونړ، هرات، هلمند او کاپیسا ولایتونو کې سلا او مشورې ترسره کړي
- د څارني او ارزونې کمیټه( MEC ) د فساد پر وړاندې د هڅو د همغږۍ کونکې او د یو مهم اسانتیاوو برابرونکې په توګه رول لوبوي تر او سمهاله کمیټې تر سلو زیاتو کسانو سره چې تر سلو زیاتو دولتي، نړیوالو او مدني ټولنې مؤسسو پورې تړاو لري، لیدنه ترسره کړي

په راتلونکو میاشتو کې کمیټه، د قانون جوړونې او پروګرام د ځینو مسایلو په اړه خپلواک لیدلوری وړاندې کوي

- د نورو نوښتونو سربیره، د څارني او ارزونې کمیټه او سمهال د اطلاع ورکونکو د قانون د توسعې، د مرستو د اغیزناکتوب په اړه په څیړنه او د اداري فساد پر وړاندې د درملو د واردولو د پروسې د زیانمنلو د ارزونې په چارو بوخت ده
- د څارني او ارزونې کمیټه د ځمکو د لاندې کولو اړوند رپوټ په نژدې راتلونکې کې خپروي چې د موضوع د سیستمیک دوام لاملونو ته د رسیدنې لپاره سپارښتنې په ځان کې رانغاړي

د لا ډېرو معلوماتو لپاره د اداري فساد پروړاندې د څارني او ارزونې خپلواکې ګډې کمیټې سره په اړیکه کې شئ:
www.mec.af contact@mec.af ۰۰۹۳۷۹۸۷۵۰۵۷

د کمیټې انځورونه له لاندې ادرس څخه ترلاسه کولای شئ: www.flickr.com/photos/mec123/